د عامې روغتیا وزارت

# روغتیا اوونیزه


## پرلیکه خپرونه

### لومړی پړاو - دیرشمه ګڼه

۱۴۰۴-۱۲-۲۸

- په روږدو روغتون باندې د پاکستاني رېژیم برید کې د ټپي شویو کسانو درملنې ته رسېدنه!
- په یو شمېر مرکزي روغتونونو کې ناروغانو سره د عامې روغتیا رهبرۍ ګډه روژه ماتي!
- رهبرۍ ته د خصوصي روغتیايي سکټور څخه د ترسره شویو نظارتونو راپور وړاندې کول!
- د پولیو ملاتړ او همغږۍ په تړاو بین الوزارتي غونډه!
- لوګر ولایت ته د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال سفر!

د ویاندوینې اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست



## د عامې روغتیا وزارت له لورې د ملي او نړیوالو سازمانونو او مؤسساتو استازو او تمویل کوونکو سره د هیلت کلسټر ګډه ناسته ترسره شوه

دا ناسته چې د عامې روغتیا وزارت د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د دې وزارت د مرکزي رئیسانو او د ملي او نړیوالو مؤسسو د استازو په شتون کې ترسره شوه د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال په دې ناسته کې د روغتیايي خدماتو له تمویل کوونکو وغوښتل خپلې اداري له دې وزارت سره په همغږۍ د بېړنیو پېښو او هېواد ته د راستنېدونکو کسانو بهیر د ښه مدیریت په موخه له وړاندې چمتو کړي، تر څو د اړتیا پر مهال ورته لازم خدمات وړاندې شي.

نوموړي زیاته کړه، چې په دې چمتووالي کې د روغتیايي خدماتو اړین کیټونو برابرول، روغتیايي مرکزونو ته د درملو استول، روغتیايي مصرفي مواد، ګرځنده روغتیايي ټیمونه، اضافي بسترونه، د راجع کولو سیستم، د واکسین او تغذيي خدمات، د میندو او ماشومانو اړوند خدمات او نور شامل دي، څو بېړنیو حالاتو کې ناروغانو او هېواد ته د راستنېدونکو کسانو لپاره لازم خدمات وړاندې شي.

بل لور، د ملي او نړیوالو مؤسسو او د عامې روغتیا وزارت د تمویل کوونکو استازو ژمنه وکړه، چې په دې برخه کې به له عامې روغتیا وزارت سره هر اړخیزه همکاري وکړي.

همدارنګه هغوی خپل وړاندیزونه او ننګونې د عامې روغتیا وزارت له رهبرۍ سره شریکې کړې، چې د حل په موخه ورته ډاډ ورکړل شو.



## نشست مشترک هیلت کلستر وزارت صحت‌عامه، با نماینده گان موسسات ملی و بین المللی و تمویل کننده گان، برگزار شد

این نشست که با حضور محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، رییسان مرکزی این وزارت، نماینده گان موسسات ملی و بین المللی برگزار گردید.

در آن محترم معین عرضه خدمات صحی، از نماینده گان تمویل کننده خدمات صحی خواست تا آماده گی های ادارات خود را با هماهنگی این وزارت، در بخش صحی برای حالات اظطرار و برنامه بازگشت کننده گان به کشور از قبل داشته باشند تا در صورت نیاز از آن استفاده موثر و به وقت معین صورت گیرد.

محترم معین عرضه خدمات افزود، که این آماده گی‌ها شامل، کیت های تروما، اکمال ادویه مراکز صحی، مواد مصرفی صحی، تیم های سیار صحی، امبولانس‌ها، بسترهای اضافی به شکل ریزرف، سیستم رجعت دهی بهتر، خدمات در بخش واکسین و تغذیه، خدمات برای مادران و اطفال، هماهنگی بیشتر و موارد مهم دیگر می باشد تا در حالات اضطرار و برای بازگشت کننده گان خدمات لازم ارایه گردد.

از سوی‌هم، از نماینده گان موسسات ملی و بین المللی و تمویل کننده گان، که در این راستا با وزارت صحت‌عامه همکاری نموده اند ابراز تشکر نمود.

همچنان این نماینده‌گان، پیشنهادات و چالش‌های شان را نیز با رهبری وزارت صحت‌عامه شریک نمودند که به خاطر حل به آنان اطمینان داده شد

## The Ministry of Public Health held a joint Health Cluster meeting with representatives of national and international organizations, and donors.

The meeting was held in the presence of the Deputy Minister for Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, central directors of the Ministry, and representatives of national and international organizations.

Mawlawi Abdul Wali Haqqani called on donors supporting health services to prepare their organizations, in coordination with the Ministry, to better manage emergencies and the influx of returnees to the country, ensuring the provision of necessary services when needed.

He added that this preparedness includes providing essential health kits, supplying medicines and medical consumables to health facilities, deploying mobile health teams, arranging additional beds and referral systems, and ensuring vaccination, nutrition, and maternal and child health services to support patients and returnees during emergencies.

Representatives of national and international organizations and donors of the Ministry of Public Health pledged to provide full support and cooperation with the Ministry in this regard. They also shared their suggestions and challenges with the leadership of the Ministry of Public Health and were assured that the issues would be addressed.



## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ټولنیزو چارو له مرستیال، ښاغلي مولوي عبیدالله امین زاده سره لیدنه وکړه

په دې لیدنه کې د دواړو وزارتونو ترمنځ د همغږۍ او ګډو همکاریو پر پیاوړتیا او د هغه ماشومانو لپاره چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند روزنتونونو کې شتون لري، د درملنې، روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو او د یاد وزارت سره په ګډه ورته د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د یو ګډ هوکړه لیک په اړه هر اړخیز بحث او خبرې تر سره شوې.

دغه راز، په دې لیدنه کې یوه تخنیکي کمېټه وټاکل شوه، چې دا کمېټه به د دواړو وزارتونو ترمنځ د یاد هوکړه لیک د چمتو کولو او اړوندو تخنیکي چارو پرمخ وړلو لپاره لازم اقدامات ترسره کوي.



## محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت عامه ا.ا.ا، با محترم مولوی عبیدالله امین‌زاده معین امور اجتماعی وزارت کار و امور اجتماعی در دفتر کاری‌اش دیدار کرد


در این دیدار، در مورد تقویت هماهنگی و همکاری‌های مشترک میان دو وزارت و فراهم‌سازی خدمات صحی و تداوی برای اطفال که در پرورشگاه‌های مربوط وزارت کار و امور اجتماعی حضور دارند، و نیز ایجاد تسهیلات لازم برای آنان از طریق یک تفاهم‌نامه مشترک میان دو وزارت، بحث و تبادل نظر همه‌جانبه صورت گرفت.

همچنان، در این دیدار یک کمیته تخنیکی تعیین گردید که این کمیته برای تهیه تفاهم‌نامه یادشده میان دو وزارت و پیشبرد امور تخنیکی مربوطه اقدامات لازم را انجام خواهد داد.

**In his official office, the Minister of Public Health of the IEA, Mawlawi Noor Jalal Jalali, met with the Deputy Minister of Social Affairs of the Ministry of Labor and Social Affairs, Mawlawi Obaidullah Aminzada.**

The two ministries held a comprehensive discussion on strengthening coordination and cooperation, and on a joint memorandum of understanding to provide treatment, health services, and support for children enrolled in the Ministry of Labor and Social Affairs' childcare centers.

The meeting also appointed a technical committee, which will take the necessary steps to prepare the joint memorandum and oversee related technical matters between the two ministries.











## د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی ریاست کې د پولیو لابراتوار د تشخیصیه خدمتونو پرځان بسیاینې او د کیفیت او کمیت ښه والي په موخه ناسته ترسره شوه

په یاده ناسته کې چې د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی رئیس ډاکټر وحدت الکوزي، د تشخیصیه خدمتونو رئیس، د مرکزي لابراتوارونو آمر، یو شمېر نورو مسؤلینو او د روغتیا نړیوال سازمان استازو ګډون کړی و، د پولیو لابراتوار د تشخیصیه خدماتو ښه والي، پر ځان بسیاینې او د کیفیت او کمیت لوړولو په اړه هر اړخیز بحث او خبرې ترسره شوې.

په دې ناسته کې د روغتیا نړیوال سازمان استازو د پولیو لابراتوار د تشخیصیه خدماتو په برخه کې د خپلو ترسره کړو فعالیتونو او همکاریو په اړه معلوماتي پرېزنټېشن وړاندې کړ.

د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی رئیس د پولیو لابراتوار پر ځان بسیاینې او د خدماتو د کیفیت او کمیت پر لوړولو ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې په دې برخه کې دې د ترسره شویو فعالیتونو، شته ستونزو او ننګونو په اړه یو جامع راپور ترتیب او د اجراآتو لپاره دې د وزارت مقام ته وړاندې شي؛ څو د پولیو د تشخیصیه خدماتو کیفیت ښه والي لپاره لازم اقدامات ترسره او یاد لابراتوار د خودکفایې پړاو ته ورسېږي.



## نشستی به منظور خودکفایی خدمات تشخیصیه لابراتوار پولیو و بهبود کیفیت و کمیت آن در ریاست عمومی طب معالجوی وزارت صحت عامه برگزار گردید.

در این نشست که داکتر وحدت الکوزی رئیس عمومی طب معالجوی وزارت صحت عامه، رئیس خدمات تشخیصیه، آمر لابراتوارهای مرکزی، شماری از مسوولان دیگر و نمایندهگان سازمان صحی جهان اشتراک داشتند، در مورد بهبود خدمات تشخیصیه لابراتوار پولیو، خودکفایی آن و بلند بردن کیفیت و کمیت خدمات بحث و تبادل نظر همهجانبه صورت گرفت.

در این نشست، نمایندهگان سازمان صحی جهان در مورد فعالیتها و همکاریهای انجامشدهٔ شان در بخش خدمات تشخیصیه لابراتوار پولیو یک پریزنتیشن معلوماتی ارائه نمودند.

رئیس عمومی طب معالجوی وزارت صحت عامه بر خودکفایی لابراتوار پولیو و ارتقاء کیفیت و کمیت خدمات آن تأکید نموده و افزود که در این زمینه باید یک گزارش جامع از فعالیتهای انجامشده، مشکلات و چالشهای موجود ترتیب و جهت اجراات به مقام وزارت ارائه گردد تا برای بهبود کیفیت خدمات تشخیصی پولیو اقدامات لازم صورت گرفته و این لابراتوار به مرحله خودکفایی برسد.

## The Directorate General of Curative Medicine of the Ministry of Public Health held a meeting to enhance the self-sufficiency of diagnostic services in the polio laboratory and to improve their quality and quantity.

The meeting, attended by Dr. Wahdat Alkozai, Director General of Curative Medicine, the Director of Diagnostic Services, the Head of Central Laboratories, several other officials, and representatives from the World Health Organization, focused on improving the polio laboratory's diagnostic services, achieving self-sufficiency, and enhancing both quality and quantity.

Representatives of the World Health Organization delivered an informative presentation on their activities and cooperation in the field of diagnostic services at the polio laboratory.

Dr. Alokozai emphasized achieving self-sufficiency in the polio laboratory and improving the quality and capacity of its services. He also instructed that a comprehensive report on activities, challenges, and existing issues be prepared and submitted to the Ministry's leadership for necessary action.



## د هلمند ولايت په ګرمسير ولسوالۍ کې 7 ټنه له نېټې تېر خوراکي توکي راټول او له منځه یووړل شول

د هلمند عامې روغتيا رياست مسؤلينو د ګرمسير ولسوالۍ له بازارونو، پلورنځيو او ګودامونو څخه د روغتيايي قوانينو د تطبيق په موخه هر اړخيز نظارت ترسره کړ، چې په پايله کې يې 7 ټنه له نېټې تېر خوراکي توکي راټول او له منځه یووړل شول؛ څو د خلکو روغتيا خوندي شي.

## 7 تُن مواد غذایی تاریخ گذشته در ولسوالی گرمسیر ولایت هلمند جمع‌آوری و از بین برده شد

مسوولان ریاست صحت عامه این ولایت از بازارها، فروشگاه‌ها و انبارهای ولسوالی گرمسیر به منظور اجرای قوانین صحی نظارت همه جانبه نمودند، که در نتیجه 7 تُن غذاهای تاریخ گذشته جمع‌آوری و از بین برده شد؛ تا صحت مردم تأمین شود.

## Helmand Province Destroys 7 Tons of Expired Food in Garmsir District

Officials from Helmand's Public Health Directorate conducted comprehensive inspections of markets, shops, and warehouses in Garmsir district to enforce health regulations. As a result, 7 tons of expired food were collected and destroyed to protect public health.



## د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو د څارنې او پلټنې رئيس ډاکټر کريم الله حليمي او ګډ نظارتي کمېټې د کابل ولايت په اتمه ناحيه کې له يو شمېر خصوصي روغتونونو او کلينيکونو څخه نظارت ترسره کړ

دغه نظارت چې موخه يې د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړول، هېوادوالو ته په معياري ډول د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول او په چارو کې شفافيت رامنځته کول دي، په ترڅ کې يې ډاکټر کريم الله حليمي او مل تخنيکي ټيم له يو شمېر خصوصي روغتونونو او کلينيکونو څخه ليدنه وکړه او د هغوی خدمات يې وڅارل.

همدارنګه، د روغتونونو جوازونه وکتل شول، ستونزې او نيمګړتياوې يې په نښه او د حل په موخه له اړوندو مسؤلينو سره شريکې شوې او هغوی ته سپارښتنه وشوه، چې هېوادوالو ته د 1084 مقررې سره سم معياري او باکيفيته خدمات وړاندې کړي.




## د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس، مولوي محمد سلیم حقاني او مل تخنیکي ټیم جوزجان ته د سفر په ترڅ کې د یاد ولایت له والي ملا عبدالله سرحدي سره لیدنه ترسره کړه

په دې لیدنه کې چې د جوزجان ولایت عامې روغتیا رئیس قاري ذبیح الله هم شتون درلود، د روغتیایي خدماتو ښه والي او شته ستونزو د حل په اړه خبرې وشوې؛ د جوزجان والي ملا عبدالله سرحدي یاد پلاوي ته د هرکلي او ښه راغلاست ویلو ترڅنګ ژمنه وکړه، چې ولایتي اداره به له مرکزي اداري سره په ګډه د روغتیا برخې پیاوړتیا لپاره هلې ځلې کوي او زیاته یې کړه، چې د عامې روغتیا وزارت مسؤلینو دا ډول سفرونه د ستونزو د حل او اسانتیاوو رامنځته کېدو لپاره مهم دي.
دغه راز، د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس د جوزجان د والي له همکارۍ څخه د مننې ترڅنګ وویل، د روغتیایي خدماتو ښه والي په موخه به هر راز ستونزې په ګډه حلوي او هڅه کوي چې د جوزجان ولایت وضعیت ته په کتو روغتیا برخه کې د پام وړ بدلونونه راولي؛ څو خلکو ته لازمې اسانتیاوې رامنځته شي.
د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي د جوزجان د عامې روغتیا ریاست څخه هم لیدنه ترسره کړه، شته ستونزې یې په نښه او د حل په موخه یې له اړوندو مسؤلینو سره شریکې کړې؛ ترڅو د خدماتو کیفیت لا ښه او اغېزمن شي.

## مولوی محمد سلیم حقانی، رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت عامه، همراه با تیم تخنیکی مربوطه در جریان سفرش به ولایت جوزجان با ملا عبدالله سرحدی، والی این ولایت، دیدار کرد

در این دیدار که قاری ذبیح‌الله، رئیس صحت عامه جوزجان نیز حضور داشت، در مورد بهبود خدمات صحی و حل مشکلات موجود گفتگو صورت گرفت. والی جوزجان، ملا عبدالله سرحدی، ضمن خوش آمدگویی به هیأت یادشده، تعهد سپرد که ادارهٔ ولایتی با ادارهٔ مرکزی در راستای تقویت بخش صحت همکاری خواهد کرد. وی افزود که چنین سفرهای مسوولان وزارت صحت عامه برای حل مشکلات و ایجاد سهولت‌ها بسیار مهم است.
همچنان، رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت عامه از همکاری والی جوزجان قدردانی نموده و گفت که برای بهبود خدمات صحی، تمام مشکلات به‌گونهٔ مشترک بررسی و حل خواهد شد. وی افزود که تلاش می‌کنند با در نظر داشت وضعیت ولایت جوزجان، تغییرات قابل توجهی در بخش صحت به وجود آورند تا سهولت‌های لازم برای مردم فراهم گردد.
قابل یادآوری است که این هیأت از ریاست صحت عامه جوزجان نیز بازدید کرد، مشکلات موجود را شناسایی نمود و برای حل آن‌ها با مسئولان مربوطه شریک ساخت تا کیفیت خدمات صحی هرچه بهتر و مؤثرتر شود.

## The Director of Internal Audit of the Ministry of Public Health, Mawlawi Mohammad Salim Haqqani, along with his technical team, visited Jowzjan Province and held talks with Governor Mawlawi Abdullah Sarhadi.

Qari Zabihullah, Director of Public Health in Jowzjan, joined the visit, where officials discussed improving healthcare services and addressing existing challenges. Governor Mawlawi Abdullah Sarhadi welcomed the delegation and pledged that the provincial administration would work with the central authorities to strengthen the health sector, highlighting the importance of such visits for resolving issues and facilitating improvements.

Mawlawi Haqqani thanked the Governor of Jowzjan for his cooperation and said all challenges would be addressed jointly to improve healthcare services. He added that efforts will focus on bringing significant improvements to the province's health sector and providing essential services to the people.

The audit director and his technical team also inspected the Jowzjan Directorate of Public Health, directing officials to deliver required services without delay.



## د هرات ولایت د خم زیارت ولسوالۍ د اساسي روغتیايي مرکز (BHC) د جوړولو افر پرانیستې پروسه ترسره شوه

یاده پروسه د عامې روغتیا وزارت د مالي او حسابي، تدارکاتو او اداري ریاستونو او یو شمېر ودانیزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه.

د عامې روغتیا وزارت د افر پرانیستې پروسې مسؤلینو وویل: (دغه پروسه په بشپړه توګه شفافه ده او له هغه شرکت څخه چې بریالی کېږي، هیله لرو کارونه په ټاکلي وخت د عامې روغتیا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه ګټو پروژه ده او موږ به یې له چارو څخه نظارت هم کوو).

بل لور، د ودانیزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بریالي شي، نو د عامې روغتیا وزارت له معیارونو سره سم به د روغتیايي مرکز د جوړېدو چارې ترسره کوي.

## پروسهٔ آفر گشایی اعمار مرکز صحی اساسی(BHC)ولسوالی خم زیارت ولایت هرات برگزار شد

این پروسه با حضور نماینده‌گان ریاست‌های مالی و حسابی، تدارکات و اداری وزارت صحت عامه و شماری از نماینده‌گان شرکت‌های ساختمانی برگزار گردید.

مسوولان پروسهٔ آفر گشایی وزارت صحت عامه گفتند: این پروسه به گونهٔ کامل شفاف است و از شرکتی که برنده می‌شود انتظار می‌رود که کارها را در زمان تعیین‌شده و مطابق با شرایط وزارت صحت عامه انجام دهد؛ زیرا این یک پروژهٔ عام‌المنفعه است و ما از جریان کار آن نیز نظارت خواهیم کرد.

از سوی‌هم، نماینده‌گان شرکت‌های ساختمانی تعهد سپردند که اگر در این پروسه برنده شوند، کارهای ساخت این مرکز صحی را مطابق با معیارهای وزارت صحت عامه به پیش خواهند برد.

## Bid opening held for the construction of the Basic Health Center (BHC) in Khum Ziarat District, Herat Province.

The process was conducted in the presence of representatives from the Ministry of Public Health's Finance and Accounts, Procurement, and Administrative Directorates, as well as several construction companies.

Offer Opening Committee Officials stated, "This process is fully transparent, and we expect the company that takes over the project to carry out their work promptly, in line with the guidelines and conditions set by MoPH. As this is a public project, we will closely monitor every step of its implementation."

The construction company representatives pledged that, if they take over the project, they would adhere to the guidelines and conditions of the Ministry of Public Health while carrying out the work.



## د عامې روغتیا وزارت له لوري د پولیو (ګوزڼ) پروګرام د ملاتړ او د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا په موخه بین‌الوزارتي غونډه تر سره شوه

په دې غونډه کې د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د پولیو له منځه وړلو ملي بیړني عملیاتي مرکز رئیس الحاج ډاکټر عبدالقدوس بریالي، د پوهنې وزارت، لوړو زده کړو وزارت، د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتونو اورېدلو وزارت، کورنیو چارو وزارت، اطلاعاتو او کلتور وزارت، روغتیا نړیوال سازمان، یونیسف او نورو همکارو ادارو مسؤلینو او استازو ګډون کړی و

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د پولیو مخنیوي برخه کې د ټولو ادارو ګډې همکارۍ ته په اشارې وویل:( د ماشومانو د روغتیا ساتنې لپاره د ټولو دولتي او ټولنیزو بنسټونو ملاتړ اړین دی او .(د پولیو له منځه وړلو لپاره باید د عامه پوهاوي کچه لوړه شي
ښاغلي وزیر زیاته کړه، چې د ټولو ادارو ترمنځ منظمه همغږي او ګډ کار کولای شي د واکسین پروګرامونه لا اغېزمن کړي او هر ماشوم ته د واکسین د تطبیق زمینه برابره کړي.

دغه راز، د پولیو د له منځه وړلو ملي بیړني عملیاتي مرکز رئیس، الحاج ډاکټر عبدالقدوس بریالي د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې د پولیو ویروس د وضعیت، شته ننګونو او د ګډ کار د اهمیت په اړه معلومات شریک او ټینګار یې وکړ، چې د ټولو سکتورونو ترمنځ همغږي کولای شي د پولیو واکسین کمپاینونو اغېز زیات او ټولو ماشومانو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي.

د یادې غونډې په پای کې د بېلا بېلو وزارتونو استازو هم څرګندونې وکړې او د پولیو پروګرام د ملاتړ تر څنګ یې ډاډ ورکړ، چې اړوندې ادارې به د عامه پوهاوي، همغږۍ او د واکسین ټیمونو د ملاتړ برخه کې لازمې همکارۍ ته دوام ورکړي.

## The Ministry of Public Health held an inter-ministerial meeting to support the polio program and enhance coordination among relevant agencies.

The meeting was attended by the Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali; Al-Haj Dr. Abdul Qudus Baryalai, Director of the National Emergency Operations Center; officials from the Ministry of Education, Ministry of Higher Education, Ministry of Hajj and Religious Affairs, Ministry for the Promotion of Virtue, prevention of Vice and Hearing of Complaints, Ministry of Interior Affairs, and the Ministry of Information and Culture; as well as representatives from WHO, UNICEF, and other partner organizations.

H.E Mawlawi Noor Jalal Jalali, highlighted the importance of joint cooperation among all agencies in polio prevention, stating: ‘Support from all government and social institutions is essential to protect children's health, and public awareness must be raised to eradicate polio.’ He added that systematic coordination and joint efforts among all agencies can make vaccination programs more effective and ensure that every child has access to immunization.

Dr. Abdul Qudus Baryalai, shared information on the polio virus situation, existing challenges, and the importance of joint efforts across the country. He emphasized that coordination among all sectors can increase the effectiveness of polio vaccination campaigns and ensure access for all children.

At the conclusion of the meeting, representatives from various ministries also spoke, assuring continued support for the polio program. They pledged that the relevant agencies would maintain necessary cooperation in public awareness, coordination, and support for vaccination teams.



## د هلمند ولایت موسی کلا ولسوالۍ کې 11 ټنه له نېټې تېر خوراکي توکي راټول او له منځه یووړل شول

د هلمند عامې روغتیا ریاست د خوړو او درملو د څارنې او پلټنې مسؤلینو د موسی کلا ولسوالۍ له بازارونو، پلورنځیو او ګودامونو څخه د روغتیایي قوانینو د تطبیق په موخه هر اړخیز نظارت ترسره کړ، چې په پایله کې یې 11 ټنه له نېټې تېر خوراکي توکي راټول او له منځه یووړل شول؛ څو د خلکو روغتیا خوندي شي.

## تُن مواد غذایی تاریخ گذشته در ولسوالی موسی کلا 11 ولایت هلمند جمع‌آوری و از بین برده شد

مسوولان بخش نظارت و بازرسی غذا و ادویه ریاست صحت عامه این ولایت از بازارها، فروشگاه‌ها و انبارهای ولسوالی موسی کلا به منظور اجرای قوانین صحی نظارت همه‌جانبه نمودند، که در نتیجه 11 تُن غذاهای تاریخ گذشته جمع‌آوری و از بین برده شد؛ تا صحت مردم تأمین شود.

## Helmand Province Destroys 11 Tons of Expired Food in Musa Qala District

Officials of the Food and Drugs Monitoring and Inspection from Helmand Provincial Public Health Directorate conducted thorough inspections of markets, shops, and warehouses in Musa Qala district to ensure compliance with health regulations. As a result, 11 tons of expired food were collected and destroyed to protect public health.

د عامې روغتیا وزارت

## روغتیایي پیغام!

هر مراجعه کوونکی باید د روغتیایي مرکز له پرېښودو مخکې د خپلې ناروغۍ د مخنیوي او درملنې په اړه بشپړ معلومات ترلاسه کړي، تر څو درملنه پر ټاکلي وخت او سمه توګه تر سره شي.

د ویاندویۍ، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

Ministry of Public Health

## Health Message!

**Every patient should receive complete information on preventing and treating their illness before leaving the health center, so that treatment is carried out on time and properly.**

Spokesperson, Information & Public Relation Directorate







## د وزیر محمد اکبر خان ملي او تخصصي روغتون له لوري د روان 1404 لمریز کال له پیل څخه تر دې دمه (40770) بریالي جراحي عملیاتونه ترسره شوي دي

د یادو عملیاتونو له ډلې 10004 ستر عملیاتونه او 30766 واړه عملیاتونه دي، چې د مجربو، متخصصو او مسلکي ډاکټرانو له لوري ترسره شوي دي.

دا جراحي عملیاتونه د مسلکي اصولو او روغتیایي معیارونو په رعایت سره ترسره شوي، چې د یاد روغتون د تخنیکي او تخصصي ظرفیت څرګندونه کوي.

د یادونې وړ ده، چې په همدې موده کې (15048) تنه ناروغانو ته داخل بستر (IPD) او (217305) تنه مراجعینو ته خارج بستر(OPD)روغتیایي خدمات وړاندې شوي دي.

د دې روغتون ډاکټران د کاري تجربې، مسلکي تخصص او انساني ژمنتیا په لرلو سره تل هڅه کوي؛ څو ناروغانو ته معیاري، خوندي او پر وخت روغتیایي خدمات وړاندې او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت ښه والي په موخه اغېزمن ګامونه پورته کړي.

## در شفاخانه ملی و تخصصی وزیر محمد اکبر خان در سال روان 1404، حدود 40770 عملیات جراحی با موفقیت اجرا شده است

از میان این عملیات های جراحی، 10004 عملیات بزرگ و 30766 عملیات کوچک توسط داکتران مجرب، متخصص و ورزیده اجرا گردیده است. این عملیات های جراحی با رعایت اصول مسلکی و معیارهای صحی اجرا شده و بیانگر ظرفیت تخنیکی و تخصصی این شفاخانه می‌باشد.

قابل یادآوری است که در همین مدت، برای 15048 تن خدمات در بخش بستر(IPD) و برای 217305 تن خدمات در بخش خارج بستر (OPD) این شفاخانه برای مراجعین ارائه شده است.

داکتران این شفاخانه با داشتن تجربه کاری، تخصص مسلکی و تعهد انسانی، همواره در تلاش اند تا خدمات صحی معیاری، مصئون و به موقع را برای بیماران ارایه نمایند و در راستای بهبود کیفیت خدمات صحی گام‌های مؤثری بردارند.

**Wazir Mohammad Akbar Khan National Hospital has successfully performed 40770 surgical operations from the beginning of the current solar year 1404 up to the present.**

Of these procedures, 10004 were major surgeries and 30766 were minor surgeries, all carried out by seasoned, specialized, and professional doctors.

These surgical operations were conducted in accordance with professional principles and healthcare standards, demonstrating the hospital's strong technical and specialized capacity.

During the same period, 15048 patients received inpatient services, while 217305 were provided with outpatient healthcare services.

With their professional expertise, practical experience, and strong humanitarian commitment, the hospital's doctors continuously strive to deliver standardized, safe, and timely healthcare services to patients and to take effective steps toward improving the quality of healthcare services.



**د عامې روغتیا وزارت د روږدو درملنې ملي پروګرام د روږدیتوب څخه د مخنیوي کمېټې مسؤلینو د کابل کارته نو سیمه کې د اطلس علمي روزنيز مرکز زده کوونکو ته د نشه يي توکو څخه د مخنیوي معلوماتي کمپاین پیل کړ**

دغه معلوماتي کمپاين د (خپل ژوند قهرمان اوسه) تر عنوان لاندې د اطلس علمي مرکز زده کوونکو او همکارانو په ګډون ترسره شو، چې موخه يې په ژوند کې د سالمو پرېکړو د پياوړتيا لپاره د نشه يي توکو څخه مخنيوي برخه کې د ځوانانو معلومات لوړول وو.

په دې کمپاين کې د روږدو د مخنيوي کمېټې رواني مشاورينو او پوهانو د ( نشه يي توکو خاموشې څپې) د خطر، مخنيوي، معلوماتو اهميت، د ملګرو فشار، د (نه) ويلو مهارت، د (قوي ذهن = قوي وقايې) او د ځوانانو په ساتنه او ملاتړ کې د کورنۍ او ټولنې رول تشريح کړ.

په پای کې د ځوانانو له لوري د دغه کمپاين هرکلی شو او ګډونوالو د دې ډول معلوماتي پروګرامونو د دوام غوښتنه وکړه.

**مسوولان کمیته وقایه از اعتیاد، ریاست برنامه ملی تداوی معتادین وزارت صحت‌عامه، برنامه آگاهی‌دهی و وقایه از مواد مخدر را در مرکز آموزشی علمی اطلس واقع ساحه کارته نو کابل راه اندازی نمودند**

این برنامه آگاهی‌دهی و وقایه تحت عنوان «قهرمان زنده گی خودت باش» با اشتراک جمعی از جوانان اکادمی علمی اطلس و همکاران شان برگزار گردید. که هدف آن بلند بردن سطح آگاهی جوانان در مورد وقایه از مواد مخدر و تقویت تصمیم‌گیری سالم در زنده گی بود.

در این برنامه، مشاوران روانی و روان شناسان کمیته وقایه از اعتیاد، در باره خطر«سونامی خاموش مواد مخدر» و اهمیت وقایه و آگاهی دهی، فشار دوستان و اهمیت مهارت «نه گفتن» «ذهن قوی = وقایه قوی» و نقش خانواده و جامعه در حمایت و محافظت از جوانان سخنرانی نمودند.

در اخیر، این برنامه با استقبال خوب این جوانان همراه بود و اشتراک کننده گان بر ادامه چنین برنامه‌های آگاهی‌دهی تأکید نمودند.

**Officials from the Addiction Prevention Committee, Directorate of the National Addiction Treatment Program of the MoPH, launched a drug awareness and prevention program at the Atlas Academic Center in Karte Naw, Kabul.**

The "Be the Hero of Your Life" awareness and prevention program was held with students from the Atlas Scientific Academy and their staff. The initiative aimed to raise youth awareness about drug prevention and encourage healthy decision-making. During the program, counselors and psychologists from the Addiction Prevention Committee highlighted the dangers of the "silent drug tsunami", the importance of awareness and prevention, peer pressure, the skill of saying "no", the principle of "strong mind = strong prevention", and the role of families and communities in protecting and supporting youth.

The program concluded with a positive response from the youth, who emphasized the need for more awareness initiatives in the future.




## د فراه ولایت د روږدو درملنې 80 بستریز روغتون څخه 37 تنه تداوي شوي ناروغان د حرفوي زده کړو له درې میاشتنۍ روزنیزې برنامې بشپړېدو وروسته فارغ شول

دغه کسان د نل دوانۍ، جاري برېښنايي سيستم، لمريز برېښنايي سيستم او د موټرسايکل ترميم برخو کې له درې مياشتنيو مسلکي زده کړو وروسته فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شول.
د فراه ولايت د عامې روغتيا مرستيال، ډاکټر دين محمد عبدالحق په همدې موخه جوړې شوې غونډې کې د دې پروګرام پر پياوړتيا ټينګار وکړ او ويې ويل: ( د عامې روغتيا رياست رهبري هڅه کوي؛ ترڅو د روږدو درملنې ملي برنامې څخه تداوي شويو کسانو ته د غوره روزنې او ظرفيت لوړونې زمينه برابره کړي).
دغه راز، له دې پروګرام څخه دوو تنو فارغانو، محمد صادق او عنايت الله څرګنده کړه، چې مسلکي روزنې يې د ژوند مسير بدل کړی او په ژوند کې يې نوې هيلې پيدا کړې دي. هغوی وويل چې د دې مهارتونو څخه په ګټه اخيستنې کولای شي د ژوند نوې مرحله پيل کړي.
د يادونې وړ ده، چې د مسلکي روزنې ترڅنګ اړين کاري وسايل او تصديق سندونه هم دغه کسانو ته وويشل شول.

## 37 تن از معتادین بهبود یافته از مرکز تداوی معتادین شفاخانه 80 بستر ولایت فراه، پس از تکمیل یک دوره آموزش‌های حرفه‌ای سه ماهه فارغ گردیدند

